**بسم الله الرحمن الرحيم**

**(ژباړه)**

## له شک پرته چې موږ د آدم اولادې ته عزت ورکړی!

له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«**يَتَقَارَبُ الزَّمَانُ، وَيَنْقُصُ العَمَلُ، وَيُلْقَى الشُّحُّ، وَيَكْثُرُ الهَرْجُ قَالُوا: وَمَا الهَرْجُ؟ قَالَ: القَتْلُ القَتْلُ**» (رواه بخاري)

**ژباړه:** *وخت به لنډ شي، عمل به کم شي، په زړونو کې به بخل ځای ونیسي او ګډوډي به ډېره شي. پوښتنه وشوه: اې رسول الله! ګډوډي يعنې څه؟ ويې فرمايل: قتل او وژل.*

دغه موضوع د قیامت له کوچنیو نښو ده او داسې ښکاري چې زموږ د سترګو پر وړاندې دغه ټولې نښې را څرګندې شوې دي. د وخت د لنډېدو په اړه یې ویلي، چې وخت به د انسانانو د غلفت له امله په چټکۍ سره تېرېږي؛ داسې چې خلک به د الله سبحانه وتعالی له دین څخه بې خبره کېږي، د دنیا په ناوړه او بې معنی خوندونو کې به ډوبېږي او شپه او ورځ به د برق په څېر پرې تېرېږي. د عمل له کمېدو څخه موخه دا ده، چې پر دین عمل کول به کم شي او ډېری خلک به دغه نیمګړتیاوې ولري؛ دوی به د خپل دنیوي ژوند لپاره هر کار ته لاس اچوي، خو اخرت به یې هېر وي.

کله چې د حرص او بخل خبره کېږي، موږ وینو چې د الله سبحانه وتعالی ډېری محرمات د بخل په سبب تر پښو لاندې کېږي؛ د دې ترڅنګ د الله سبحانه وتعالی ډېری فرضونه هم د هغه له امله نه پرځای کېږي. قتل او وژنې په ډېرې اسانۍ ترسره کېږي، د مسلمانانو خاورې د وینو تویولو او د حساب د تصفیې پر ډګرونو بدلې شوې دي. **لا حول ولا قوة إلا بالله!**

دې غمجنې صحنې ته په پام سره پوښتنه پیداکېږي: ایا دا هغه څه دي چې الله سبحانه وتعالی زموږ انسانانو لپاره غوښتي دي؟ یعنې انسانان دې یوازې د خوړېدو لپاره ژوند وکړي؟ ایا زموږ رب نه دي فرمایلي:

﴿**لَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا**﴾
[اسراء: ۷۰]

**ژباړه:** *«موږ د ادم اولاد ته عزت ورکړ، په وچه او اوبو کې مو سورلي ورکړه، له پاکو او خوندورو څیزونو څخه مو روزي ورکړه او د خپلو ډېرو مخلوقاتو په پرتله مو هغوی ته غوره‌والی ورکړ.»*

الله سبحانه وتعالی موږ انسانانو ته د ژوند د نظام په راسپارلو سره، پر خپلو نورو مخلوقاتو فضیلت راکړی دی، ترڅو په دې دنیا کې له فقر، بخل، غلا او وژنو پرته ژوند وکړو او د دنیا ژوند د اخرت د جوړولو لپاره تېر کړو. دا اوس ستاسو مسولیت دی چې هلې ځلې وکړئ، د دنیا د ژوند په اړه پوهاوی پیداکړئ، تاریخ مطالعه کړئ او د الله سبحانه وتعالی د ایتونو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احادیثو په اړه تدبر وکړئ؛ ترڅو هغه واقعیت وپېژنئ چې له څو لسیزو راهیسې ترې محروم یئ. همدارنګه هغه عزتمن ژوند درک کړئ، چې ستاسو نیکونو د الهي نظام یعنې خلافت دولت تر سیوري لاندې د ژوند کولو لپاره تېر کړی دی؛ هغه نظام چې د هر مسلمان ژوند ته عزت وربښي.

اې ربه! د نبوت پر منهج خلافت دولت ژر تاسیس کړه، چې په مرسته یې د مسلمانانو اوسنی ناوړه حالت او د هغوی مصیبتونه له منځه ځي. اې ربه! په خپل کریم نور سره ځمکه روښانه کړه. اللهم آمین آمین!

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**